# د اینده نـهضت د کنفرانس درنو برخوالو!

اجازه راکړئ چې د ګران افغانستان او سترو ملی ګټو د ساتلو په هلو ځلو
کې ستاسو دبریالیتوب او پرمختک هیلې څرګند ې کړم.

زموږ په اند و باور د اینده نـهضت او په ځانګړی توګه د هغه د
مشر ډاکتر عبدالله نایبي پرله پسې علمي، فرهنګي او
سیاسي څېړنیز ز یار دستاینې وړدی .

د ا په ډاګه څرګندیږي چې ددې کنفرانس موخه دافغانستان دخلکو د ژغور،
ازادی، سوکالی او مانیزو اړتیاوو دپوره کولو لپاره د سولمنو او نیاومنو
(عاقلانه اوعادلانه) لارو چارو پر لټون را چورلي.

دافغانستان ملي دریځ ګوند اره موخه هم د افغانستان د تاریخي وکر(هویت)او د
خپلو هېواد والو له مانیزې ججورې او ظر فیت سره سم دټولنیز نیاو او انسا ني
رښتو(حقونو) سا تنه او تینګښت دی .

څرنګه چې پوهیږو ،تر دویمي نړیوالي جګړې راوروسته دپانګوالی څېره
بدله شوې او له دې سره دهغه مهال په څېر پرولتار یا هم نور شتون نه
لري.پردې بنسټ ویلای شو چې د نیاومني
مبارزې ډول اودغورځنګو نوغوښتنواوشعارونو هم څرګند بدلو ن موندلی. همدا
راز دبشري رښتو د نړیوالې اعلامیې په منلو سره دهېوادونو اونړیوا لو حقوقي
سازمانونو دندې او پاژې (مکلفیتونه) جوتې شوي او دسولې،
نیاومنی(عدالت) او ولسواکی(دېموکراسی) په اړه یې دریځ هم یوه تا کلې بڼه
موندلې ده. که ټول هېوادونه نوموړي اعلامیې ته رښتیني واوسي، نو اوسنۍ
ډیری ټولنیزې ربړې به هم پای ومومي.

په هره توګه تاریخي ازمېښتو را وښووله چې له پانګوالی پرته دودې لارې
علمي او کړنیز

(تطبیقي) بنسټ نه درلود ، زموږ په ټولنه کې وسمهالی بنسټیز اړپېچ(تضاد) د
زاړه پالو فیوډالي کرکټرلرونکو اودپانګوالی مخ پر ودې اومدرنو ځواکونو
ترمنځ په بېلابېلوبڼواو

څېرو ځان را څرګندوي ، په دې توګه هرملي اومترقي ځوا ک ته په کار ده، چې
دنوموړو ټولنیزو، سیاسي ځواکو اوتضادو په دې څرګند جوړښت کې خپل
سولمن (معقول) ځای وپېژني اوغوره یې کړي. باید څرګنده شي چې نور نو د
یو ګوندي زورواکی(دیکتاتوری) دولتي سیستم چې په هره بڼه او نامه وي،

**دولس له ګټو سره سمون او انډول نه لري او د وس مهال روښاندانو**
**ته دزغم وړ نه دی ۰**

**دافغانستان ملي در**
**يځ ګوند دکړنلارې اورواني پاليسۍ له مخې غواړم، ټولو هېوادپالو،**

**سوله پالو او پرمختګپالو سياستوالوته وړانديز وکړم چې دپوهاوي ګډ فورم په**
**را منځته کولو خپلې هلې ځلې او هاندو هڅې سره هم غږې**
**کړي ۰ زموږ له انده دافغاني ټولنې د کينې غورځنګ دنده به داوی چې دهېواد**
**ربړوته د غوره والي (ارجحيت) دمتود پر بنسټ دحل لارې چارې ومومي ۰**

**موږ دپورتنيو دندو دترسروني لپاره له**
**ټولو هېواد پالو، ملي مترقي اودسوله پيزې**
**مبارزې پلويانوسره دپوهاوي اوګډ کار په موخه هرچيرې، په هرکچ اوهر مهال**

**خپل چمتووالی څرګنوو ۰**

**په پای کې ګران افغانستان ته سوله او خپلو وګړو ته سوکالي اوټو لو روښاندو**

**نياوپالو ملي مبارزانوته د بريو او بر ياوو هليه کوم ۰په درنښت**

**حبيب الله جانبدار**

**د افغانستان ملي دريځ ګوند مشر**